مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۱/۲۳

# محمد جانان اخندزاده فدوي

## دریمه او وروستی برخه




**دا لیکنه ما د جانان فدوي دیوان له پاره د سریزي په توګه دوه کاله پخوا کښلې وه. دغه دیوان ما د څلورو خطي نسخو او یو لړ چاپي آثارو له مخي ترتیب کړی او لومړی توک مي د چاپ له پاره ښاغلي حمدالله صحاف ته لیږلی وو چي په دې شپو ورځو کي چاپ سو.**

**د دې لیکني په خپرېدو کي مي مراد دوه ټکي دي:**

**یو دا چي د جانان فدوي دیوان د ترتیب او تکمیل او خپرېدو په خپل کار باندي درانه لوستونکي خبر کاندم او دوهم دا چي په ژوند باور نسته، ښه دئ چي د جانان فدوي پر ژوند باندي زما له کار او زیار څخه به تر خپرولو وروسته د راتلونکو څېړنو پر وخت که لازمه وه، استفاده وسي.**

**(م.هوتک)**

**د نسخي لیکدودي ځانګړتیاوي:**

(ژ) د (ږ) له پاره ،(ک) د (ګ) پر ځای،(ځ) د ( څ) په شکل، (ڼ) د (نړ) په ډول کاړي. خو زیاتره ځایونه بیا د (ژ) له پاره (ز) راوړي لکه ( ژر) د (زر) په بڼه کاړي.نور توري ئې په ننی بڼه کښلي دي. (کي) زیاتره په همدي شکل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولـئ

کاږي خو کله کله ئي ( کښي) هم ليکي. ما ټول (کي) کړي دي خو که په اصل کي (کښي) ليکل سوی وي، هوري مي اشاره ورته کړې ده. د جمع له پاره ( شول) له خپل لهجوي تلفظ سره سم ( شوه) کاږي. د (کړل) پر ځای هم (کړه) ليکي.دغه راز (پاته) ، (لڅ) او (لو= لويه) هم له خپل وينګ مطابق په همدې ډول ليکي. ځای ځای ئي د (ښ) پر ځای (ش) کښلی وي ، خو د (ش) پر ځای ئي بيا (س) راوړی وي. دمثال په توګه ( وراسه) د (وراشه) پر ځای، (تسه) د (تشه) پر ځای. د (په) او (پر) کارول ئي ډېر دقيق دي خو (ته) د (تر) پر ځای کښل ئي د خپلي سيمه ييزي لهجي ښکارندويي کوي. (که) د (کا) پر ځای کاږي او ماهم همداسي پرې ايښي دي. ( کم = کوم) په دواړو شکلو کاروي. (روځ)، (اروي)په همدې بڼه کاږي. (ده) فعل د (مذکر) له پاره ليکي خو ځای ځای (دئ) هم کاږي. املايي تېروتني لري . (تاک) د (طاق) پر ځای، (فروا) د (پروا) پر ځای، (خوارو) د (خاورو) پر ځای، او نور. په ليک کي ئي له اعرابه هم کار اخيستی دئ.

دا نسخه مي په متن کي په (اصل) سره ښوولې ده.

## دوهمه خطي نسخه:

دا نسخه د افغانستان په ملي آرشيف کي ساتل کېږي. د څرمني پوښ لري. ټول مخونه ئي ۲۶۱ دي. خط ئي نسخ دئ. نسخه په توره سياهي کښل سوې ده او د شاعر نوم ئي په سره رنګ دئ. مخونه ئي چوکاټونه نه لري. ځينو لغاتو ته ئي پر څنډو فارسي معناوي کښلي دي. متن تر (ث) رديف وروسته کندو دئ. ( ج،چ،څ،ځ،ح،خ) رديفونه ئي نسته.دا نسخه او لومړۍ نسخه دمتن په لحاظ تر ډېري اندازې يوشاني دي او د (کټ مټ) اصطلاح ورته راوړل کېدلای سي.
د سر څلور حمده ئي په بسم الله شروع سوي دي .اول پيل ئي تر بسم الله وروسته داسي دئ:

بلبل پرواز که پر چمن د ثنا
ناز و نياز که پر ګلشن د ثنا

دوهم پيل ئي:

امکان ټول ده په تحميد و په ثنا
يا په قال ده يا په حال سره ګويا

پای ئي:

هوتک خما نسب وطن دی
په سره غره کښي مي مسکن دی

په سره غره کښي بيا مرغه دی
په مرغه کښي بيا زهره دی

امان غواړم له دوزخه
هم له ګرمه هم له يخه

تر دي وروسته ئي کښلي دي:

"تمام شد اين نسخه افغانی بتاريخ شهرالصفر المظفر بچهارشنبه اخر سنه ۱۲۸۸

هرکه خواند دعا طمع دارم
زانکه من بندهٔ ګنه کارم"


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د نسخي کاتب ئي معلوم نه دئ . د ليکدود هغه ځانګړتياوي چي په تېره نسخه (اصل) کي بيان کړي دي، دلته هم هماغه شان دي. دا نسخه مي په متن کي په (م ا) سره ښوولې ده.

### دريمه خطي نسخه:

دا نسخه هم د افغانستان په ملي آرشيف کي خوندي ده. ټول مخونه ئي ۱۶۰ دي. ګچه ئي ۱۵ سانتی په ۳۱ سانتیکي ده.

پښتو او فارسي شعرونه يو په بل پسي لري. پښتو اشعار ئي زياتره په نسخ او فارسي ئي په نستعليق کښلي دي. کاتب ئي پخپله جانان فدوي دئ. ليکدودي ځانګړتياوي ئي د تېرو دوو نسخو په شان دي.
پيل ئي په دغه فارسي بيت دئ:

تر بسم الله وروسته:

آنچه شد بر لوح امکان آشکار
هست از تحرير کلک کردگار

لومړی پښتو غزل ئي په دي بيت شروع سوی ده:

پر شاهي لار کړه رفتار
لـه کـچي ځـه پـر کـنـار

د پای د مخ وروستی بيت ئي:

کور و ګور دواړه پر ځنګ سره پراته دي
ژونـي نـــه کـــوي عـبــرت لـه ګورستان

دا نسخه د حاجي دوست محمد قندهاري يوه خليفه محمد عثمان نقشبندي هم کتلي ده او پر پنځم مخ ئي پخپل لاس او مهر يو ياداښت تر بسم الله او دوعاوروسته په دي ډول کښلی دئ:

"...اما بعدنتايج فکر بکر اخوندزاده معالی و ساده که درر غرر لجه بحر حقايق و ثمره شجره جويبار دقايق است، مستحق آنست که گفته شود لم يأت بمثلها الاوائل . او تعالی بدولت قبول بهره مند فرماياد. و اناالفقير الحقير... احقر العباد عثمان عفی عنه. (مُهر)"

د نسخي په سر کي د( محمددين بارکزي) [۱۵] په لاسليک يو ياداښت لري چي نېټه ئي ۸ / ۳ / ۱۳۵۰هـ ش ده او ليکلي ئي دي" دا قلمي نسخه چه د پښتو هېرشوي شاعر فدوي چه په فارسي کښي خامي تخلص کوي د محترم اخندزاده صاحب ځخه په ځلور زره افغانيو رانيول. دا مهم ديوان تر اوسه پوري چاپ شوی نه دی. خاکرېز - کندهار".
دا نسخه مي په متن کي په (م ب) سره ښوولې ده.

### ځلرمه خطي نسخه:

دا نسخه د افغانستان د علومو اکاډيمی په خطي زېرمه کي خوندي ده. ماته ئي کاپي د ښاغلي صحاف صاحب پر لاس کاناډا ته راورسېده. خو له بده مرغه د سر اوولس (۱۷) مخه ئي له کاپی پاته سوي دي او ماته رارسدلي برخه له اتلسم مخ ځخه شروع کېږي. نسخه غالباً شاعر پخپل خط ده. په توره سياهي ئي کښلي ده. په منځ کي ئي فارسي غزلونه هم سته. د پښتو برخي ليک ئي نسخ او د فارسي دا نستعليق دئ. ليکدودي ځانګړتياوي ئي د هماغو نورو خطي نسخو په شان دي.نسخه مردف نه ده خو رکابونه ئي منظم دي او دهر مخ پر تندي باندي ئي عددونه وروسته ورلوېډلي دي. نسخه د صحافت ګډوډي لري او پاني ئي مخ و شاته سوي دي او (۸۰ ـ ۸۱) مخونه ئي کندو دي . بيا له ۱۱۳ مخ وروسته تر ۱۲۴ مخ پوري کندو دي . (۱۲۴ ـ ۱۲۵) مخونه سته خو تر هغه وروسته بيا تر ۱۳۰ مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورسره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

پوري نسته . (۱۳۰ ـ ۱۳۱) مخونه سته خو وروسته بيا تر ۱۳۶ مخ پوري نسته.د نسخي ټول مخونه د پاڼو پرسر باندي د کښل سوي عدد له مخي (۲۹۸) دي. د آخري مخ په پاى کي دا فارسي بيت راغلی دئ:

نازنين غمزه شـــــوخ تو نه پرسيد از من
که به يک لحظه رفو گشت دل چاک مرا

غزلي ئي په ځينو مخونو کي ايربي ( پر غير افقي کرښه)کښلي دي. ځيني نظمونه ئي پر سر باندي عنوان هم لري لکه (حمد، نعت، رباعيات،درباره بی وفايی دنيا،...).په ۳۹ مخ کي ئي يوه فارسي څلوريځې ته په فارسي کښلي دي چي خليفه محمد عثمان صاحب ورته وايي چي د حضرت احمد سعيد صاحب قدس سره او حاجی دوست محمد صاحب په مدح کي څه وليکه. دی په خوب کي وايي چي هغوی بزرگان دي او زما تر فهم و ادراک لوړ شخصيتونه دي. وروسته ئي ليکلي چي له خوبه راپاڅېدی، دا لاندي څلوريځه ئي په ياد کي پاته وه:

آن يکی چـــــون قـــــــبهٔ انور بود
وان دگر از نـــــــور چون خاور بود

چـون شــود هـر دو يکی مصـدر شود
چـون يـکی شد هـر دو چون گوهر بود

دا نسخه مي په متن کي په (ع ا) ښوولي ده. ددغي اختصاري نخښي لامل داوو چي په علومو اکاډيمی کي د همدي کلياتو يو بل ټوک هم سته خو تر ما پوري رارسېدلی نه دئ. ما خپل کار ته په دې نيت ادامه ورکړه چي ګوندي د کار تر پايه دا بله نسخه هم راورسېږي او هغي ته به (ع ب) نخښه وټاکم. خو له بده مرغه هغه نسخه تر ننه ( ۱۹ نومبر ۲۰۱۸ع) راونه رسېده.

### د پښتانه شعراء دريم ټوک:

پښتانه شعراء دريم ټوک د علامه رشاد (رح) په زيار په ۱۳۴۲ش کي خپور سوی دئ. ددغه ټوک ۶۹۷ مخ څخه تر ۷۰۵ مخ پوري د (جانان هوتک)تر نامه لاندي د شاعر پر پېژندنه،سير اوسلوک،د ژوند زمانه ،آثار،تخلص او کلام باندي محققانه خبري سوي دي . ما ددی متن د برابرولو پر وخت استفاده ځني کړې ده [(۱۶)].

### د سره غره ګلونه:

د سره غره ګلونه په نامه يو کتاب د ښاغلو حبيب الله رفيع او زلمي هيوادمل له خوا په ۱۳۵۷ش کال له کابله خپور سوی دئ. په دې کتاب کي د عبدالرحيم هوتک،رحمت داوي، جان محمد کاکړ او جانان هوتک پېژندنه او منتخب شعرونه راغوند سوي دي. د جانان هوتک برخه ئي زلمي هيوادمل ليکلي ده او د کلام انتخابي اشعار ئي د الفبې پر رديف له هغې خطي نسخي څخه رااخيستي دي چي ما د همدې متن له پاره د (اصل) په توګه ټاکلي او د نسخو د پېژندني په برخه کي مي معرفي کړې ده. ددغي انتخاب سوي برخي شعرونه ما له خپل متن سره مقابله کړي دي.

ما د متن د ترتيب پر وخت د ټولو نسخو پښتو برخه پخپل اړوند رديف کي راوړې ده. له هري نسخي څخه رااخيستل سوي کلام مي په لمنليک کي ښوولی دئ. کله کله مي د خو غزلو له پاره يوه حاشيه کښلې ده خو وروسته متوجه سوم چي دې اشارې ته به کله کله لوستونکي ښايي متوجه نه سي. د هري غزلي، بيت، رباعي يا قطعې له پاره مي بايد جلا جلا اشارې په لمنليک کي ورکړې واى. خو بيرته پر ټول کار باندي له سره کتنه او مقابله مي تر توان تېره وه. هيله ده چي محترم لوستونکي او کره کتونکي مي دا نيمګړتيا راوبخښي. په کوچنيو قوسو () کي راغلي کلمې د هغو سم شکل راښيي او په لويو قوسو [ ] کي راغلي کلمات زما زياتوني دي.

د جانان اخندزاده فدوي ژبه د خپلي سيمي مروجه پښتو ده او ده هم پخپل شعر کي سيمه ييزه لهجه ښه ډېره په پام نيولې ده. ما دده په لهجه کي لاس نه دئ وهلی. ځاى ځاى چي مي اړتيا حس کړې ده، هورې مي د اړوندي کلمې څنګ ته ننی مروج شکل په قوسينو کي کښلی دئ. فدوي بې ضرورته فارسي لغتونه په پېڅر کار کړي دي خو ددې پر څنګ ئي بيا ډېر داسي سوچه، نادِر او محلي لغات راوړي دي چي ثبت ئي د پښتو ژبې لغوي زېرمه بډايه کړې ده او بايد قاموسو ته شامل سي. ځيني شعرونه ئي عيبجن دي او داسي ښکاري چي د شاعرۍ لومړی هڅي ئي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دده د شعر یوه برخه پند و نصیحت دئ. بله ئي د خپل روحاني سیر و سلوک او د هغه د پړاوونو بیان دئ. دریمه ئي د بي لارو خلکو د اعمالو غندنه ده. په شعر ویلو کي دده غایه د خدای لاري ته د خلکو رابلل دي. یو مطلب څو څو واره بیانوي. دي کار ئي د شعر هنریت ور زیانمن کړی دئ..ورځنیو او تاریخي حالاتو ته اشاري هم لري او داسي ښکاري چي له سرکار سره ئي جوړه نه وي.. شاعري ئي د کمیت په لحاظ غوښنه ده خو محتوا ئي د موضوع له مخي رنګارنګي نه لري. خورا ډېر مکرر مطالب ئي په بېلابېلو عباراتو کي بیان کړي دي.

ما چي دا څلور سره خطي نسخي وکتلي، لومړۍ نسخه تر دا نورو ټولو نسخو منظمه ده. داسي ښکاري چي شاعر غوښتي وه، همدا ئي د دیوان په شکل پاته سي. په کار داوه چي ما هم همدا نسخه دده د دیوان په نامه چاپ ته تیاره کړې وای. مګر کله چي مي په دا نورو نسخو کي دا دونده (دومره) سوزان شعرونه او غیر تکراري غزلي او نظمونه تر نظر تېرېدل، حیف مي ګڼله چي د پښتو شاعرۍ دونده (دومره) درنه زېرمه دي تر لوستونکو پوري ونه رسېږي. اندېښنه مي دا هم وه او ده، چي خدای مه کړه د زماني توپانونه ئي زموږ د نورو آثارو په شان ضایع نه کړي. ځکه مي نو غوره وبلله چي ټوله زېرمه متن ته شامله کاندم. هغه پاته کلام به که د خدای رضا وه، په دوهم چاپ کي ورسره مل سي.

په خطي نسخو کي ئي د پښتو کلام په منځ فارسي اشعار هم ځای کړي دي چي ما په دې حاضر متن کي رااخیستي نه دي. که ژوند وفا وکړه، فارسي کلام به ئي په جلا ډول ترتیب او تهیه کړم ( ان شاء الله).

## د دریمي برخي لمنلیکونه:

۱۵ــ محمد دین بارکزی د پښتو ټولني پخوانی غړی اروابناد محمددین ژواک دئ.
۱۶ــ د پښتانه شعراء په دریم ټوک کي به راغلی کلام غالباً د علامه رشاد کتابتون له نسخي څخه اخیستل سوي وي.
ما چي له خپلو ترلاس لاندي خطي نسخو سره مقابله کړل، ځيني نموني مي ئي ونه موندلي.

پای

محمد معصوم هوتک
آشاوا ـ کاناډا
د نومبر ۱۹ مه ۲۰۱۸ع

## د لمنلیکونو بشپړ فهرست:

۱ ــ فدوي په (ساکن دال) باید دوې څپې ولوستل سي. زه ایکي یو وار پر داسي ځای پیښ سوم چي د (فدوي) وینګ دري څپه ییز هم کېدلای سي :
"فدوي نفس رشتیا نه اروي له سره"
خو که فدوي دري څپي ولولو نو (رشتیا) باید دوې څپي تلفظ سي، کنه وزن خرابیږي.په فارسي اشعارو کي ئي تخلص (خامی) دئ خو ما ئي په پښتو اشعارو کي هم دوه ځایه خامي تخلص وموند. یو ځای د "ب" په ردیف او بل ځای د "ګ" په ردیف کي.
۲ــ زما د وروستیو معلوماتو له مخي (زهره) او س د (وستی) په نامه هم یادیږي.
۳ــ وګ : پښتانه شعراء ـ دریم ټوک ـ ۷۰۱ مخ ـ ۱۳۴۲ ش، کابل
۴ــ وګ : فواید عثمانیه ـ ۱۷۲ او ۱۷۴مخونه
۵ــ دغه معلومات د " جماعت اصلاح المسلمین" په ویبپاڼه کي د مختار احمد کهوکهر له اردو مقالي څخه په ډېر اختصار ژباړل سوي دي. خو دا خبره باید پر زیاته سي چي علامه رشاد په خپل ناچاپ ( پښتانه مصنفین ـ دوهم ټوک) کي د مکتوبات حاجي دوست محمد کندهاري راټولوونکی مولوي محمد عادل کاکړ بللی دئ.
۶ــ مکتوبات حاجی دوست محمد ، صــ ۵۷، چاپ ملتان
۷ــ محمد یار صاحبزاده مشهور په آتش نفس د محمد امین زوی او د خالقداد لمسی د کندهار له مشاهیرو څخه وو. نوموړی د متداوله علومو عالم او د نقشبندیه طریقي پیرو وو. په پښتو ژبه ئي شعر وایه.د امیر عبدالرحمن خان ( ۱۲۹۷ـ ۱۳۱۹هـ ق) د پاچهی تر اواخرو پوري لا ژوندی وو.
۸ــ میرعلم خان هوتک دعبدالرحیم خان زوی دنورالله خان لمسی اودحاجي انګونیکه کړوسی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وو. حاجي انگو)حاجي نورمحمدخان( ديحيى خان زوى اودملي قايدحاجي ميرويس خان هوتک وراره وو) وگ دخ پلواکی لمرڅرک د ۳ مخ شجره ددانش چاپ(
۹ـ مولوي محمدعادل کاکړ دفيض محمدزوی او دړوب اوسېدونکی وو. د"ملفوظات حاجي دوست محمد" په نامه په پاړسي ژبه يوتاليف لري علامه رشادوايي چي يوه خطي نسخه ئي دافغانستان په ملي آرشيف کي خوندي ده ) وگ : پښتانه مصنفين ، ۲۲۲ مخ ناچاپ )
مولوي محمد عادل کاکړ د ( تحفة الاسلام) په نامه يو پښتو منظوم اثر هم لري چي خطي نسخه ئي ما د ښاغلي حمدالله صحاف په کلکسيون کي په ۱۹۹۱ع کال په کوټه کي وکتله او دري کاله وروسته مي يوه ليکنه هم پر وکړه او ( وفا) جريدې ته مي د خپرېدو له پاره ولېږله. په خپرېدو ئي حال نه لرم خو ليکنه ۱۳۸۹ ش = ۲۰۱۰ع کال زما په يوه چاپي کتاب (کچکول ـ لومړی ټوک ـ ۸۵ مخ )کي خوندي ده .دغه راز زما په سايټ کي د آنلاين آثارو په برخه کي هم دا څو کاله کېږي چي پرته ده.
۱۰ـ مولوي محمدگل اخوندزاده دملاشاهواخوند هوتک له لمسيانوڅخه وواو پر خراسان )کلات( باندي دميرعالم خا ن دحکومت په وخت کي ئي دقضا وظيفه پر غاړه وه..) وگ : مکتوبات حضرت حاجی دوست محمدقندهاری ص ۲۲)
۱۱ـ ملاباز محمدصاحب دکندهاردارغسان اوسېدونکی اوپه قوم بختيار وو.)وگ: هماغه مکتوبات ۱۰ مخ(
۱۲ـ وگ : مکتوبات )فارسی( حضرت حاجی دوست محمدقندهاری قدس سرّه مکتوب بيست ويکم ص ۱۰ چاپ ملتان ) دعلامه رشادد کتابتون نسخه)
۱۳ـ د سره رنگ خبره ز د ښاغلي هيوادمل صاحب له خولي کوم چي په ( دسره غره گلونه) نومي کتاب ۱۵۰ مخ کي کښلي ده (م . هـ)
۱۴ـ دغه کال په قمري حساب د امير عبدالرحمن خان ( ضياء الملة والدين) د پاچهی ديارلسم کال دئ.( م . هـ)
۱۵ـ محمد دين بارکزی د پښتو ټولني پخوانی غړی اروابناد محمددين ژواک دئ.
۱۶ـ د پښتانه شعراء په دريم ټوک کي به راغلی کلام غالباً د علامه رشاد کتابتون له نسخي څخه اخيستل سوي وي.
ما چي له خپلو ترلاس لاندي خطي نسخو سره مقابله کړل، ځيني نموني مي ئي ونه موندلي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ